پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۲/۱/۲۱

# شعرڅه شی دی؟

شعر عربي کلمه ده،په لغت کې پوهيدلو اوموندلو ته وايي.په اکثروقاموسونوکې دشعرلغوي مانا داسې راوړل شوې ده:
« شعرد «ش» په زور،دا نسان يا ښاروي دبد ن ويښته، د «ش» په زير،هرهغه څه چې دانسان د تخيل زيږنده وي،وزن اوقافيه ولري.» ( فرهنگ فارسي عميد،۷۹۵مخ)
دلته زموږ موخه په دويم تعريف کې ده،نه په لومړني تعريف کې.که دشعر له لغوي مانا څخه راتيرشو،نوله دې پوښتنې« شعرڅه شی دی؟» سره سم،بله پوښتنه رامنځ ته کيږي،هغه داسې چې:
« شعر په کوم وخت کې څه شی دی؟»؛ځکه چې شعردخپل پيدايښت په لومړنيو وختونوکې يوډول پديده وه،او وروسته بيا د وخت په تيريدوسره بل دول،او اوس بيا جلا مفهوم افاده کوي.زه به دلته په بيلابيلووختونوکې دبيلابيلوشاعرانو،ليکوالو،فيلسوفانواوپوهانوالواکونه(نظريات)،دشعردتعريف په برخه کې وڅيړم،ځودرانه لوستونکې وکولای شي دخپل قضاوت له مخې دشعريوتعريف غوره کړي اوياهم دشعر دتعريفونوپه رڼا کې دوی خپله شعرته يونوی تعريف جوړ کړي يا شعرتعريف کړي.
شعردانسانانوترټولوپخوانۍ هنري پديده گڼل کيږي.لومړنی نښې نښانې يې هغوسندرواوآوازونوته رسيږي چې لومړنيوانسانانوبه د کارپه لړکې له هغونه استفاده کوله.
کله چې دشعرد تاريخ په هکله څه وايو،نوپه دې برخه کې اکثره پوهان اوڅيړونکي اوليکوال په دې نظرموافقه سره لري چې شعردانسانانوترټولوپخوانۍ هنري پديده ده.مشهورانگليس نقاد اوشاعر« شللي » په دې برخه کې داسې نظرڅرگند کړی دی:« څنگه چې شعرمخيل کلام دی اوتخيل دپيدايښت له پيل نه د بني آدم خاصه وه،ځکه دشعرپيدايښت دانسانانوله پيدايښت سره يوځای شوی دی.» ( ادب مجله،۱۳۵۶کال،۱۱۹مخ)
دغه راز دشعردپيدايښت دبيلابيلونظرياتوپه لړکې کرستوفرکادول«په شعرکې خطا اوثواب»نومي اثرکې داسې ليکلي دي:« هره ټولنه چې په نظرکې ونيسواودهغې ټولنې دهنري ابداعاتوتاريخ ترکتنې لاندې ونيسو،شعربه دهغې ټولنې پخوانۍ رامنځ ته شوې هنري بڼه وي.»( ادب مجله،۱۳۵۶کال.۱۱۹مخ)
دهمدعونظرياتوپه لړکې ی ـ ا ـ هاوزرهم دشعردلرغونوالي په باب خپل نظرديوې مقلې په ترڅ کې څرگند کړی دی،ده ويلي دي:« شعردذهن دښکلاپيژندنې له لومړنيوفعاليتونوڅخه دی...»(گستره ومحدوده ی جا معه شناسي،هنروادبيات،۷۹مخ)
په دې ډول د ډيرومفکرينو، محققينواوپوهانو په بيلا بيلوآثا روکې د غه نظريه اود دې نظريې تا ييدي مقا لې اوکتابونه گوروچې دشعرپه لرغونوالي سره په يوه نظردي؛ خود شعرد تعريف،هدف،رسالت او وظيفې په هکله بيا سره دنظراختلاف لري.دنړۍ په بيلا بيلو سيمو کې دشعر له پا ره دپيريو په اوږدو کې بيلا بيلوخلکودخپلونظرياتو،ايدیالوژيوتجربواوپوهې له مخې ډول،ډول رسالتونه،هدفونه،نومونه،تعبير،معناوې اوتعريفونه رامنځ ته کړي دي.
دلته به دشعردتعريف،التزام،معناوو اوتعبيرونوپه هکله د نظردخاوندانونظريات راوړل شي او وبه گورو چې شعر ددوی له نظره څه شی دی؟
که ديونان دنامتواستادانو،افلاطون«جمهوريت» اوارسطو« کتا ب الشعريا پويټکس » دشعراوشاعرۍ په باب دنظرياتودلومړنيوکتابونوپه توگه په نظرکې ونيسو،نوپه مستندډول ويلای شوچې له دوو زرو کلونونه زيات وخت کيږي چې دشعردپيژندنې اوماهيت په باب مفصل اومنسجم بحثونه روان دي،خوتراوسه پورې داسې يوتعريف چې لکه دساينس فورمول ومنل شي،نه دی رامنځ ته شوی.ځينې ادبي شخصيتونه حتی دشعرله تعريف اودشعر په هکله له څه ويلوسره هم مخالفت کوي.له هغوادبي شخصيتونوڅخه چې له شعرله تعريف سره يې څرگند اوټينگ مخالفت کړي دی،يوهم دترکيې طنزليکونکی،ناظم حکمت دی.ده ويلي دي:
« شعريوې خوش آوازه مرغۍ ته ورته دی چې بايد نغموته يې غوږونيسو،خوهغه کسان چې دشعردماهيت په باب خبرې کوي،دهغوخيټوروپه شان دي چې دمرغۍ دآواز پرځای،دهغې له غوښې سره مينه لري.»(سرمحقق صديق روهي،دپښتومعاصرادبيات،۹ـ ۱۰ مخونه)
دارسطوله «پويټکس» نه مخکې افلاطون دخپلونظرياتوپه ترڅ کې،شعرته ديولاهوتي موهبت په نظرکتلي اوويلي يې دي چې:شاعردتفکراوتآمل له مخې شعرنه وايي،بلکې د «ميوز» رب النوع خپلې خبرې موږته دشاعرانوله خولې اوروي.کله چې شاعران شعروايي،دوی په خپل اصلي نورمال حالت کې نه وي،بلکې دوی دشاتوله فواروڅخه،چې دهنردآلهې په


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

باغونوکې فوارې کوي،خپلې خوږې سندرې راټولوي اوجذبې په حالت کې يې زموږغوږونوته رارسوي.نوشعردهنر دآلهې اختراع ده اوموږنه شوکولای چې د «تنيخوس» او «خاسيديان» ښکلې نظمونه دبشري فکرمحصول وبولو.شاعران دهنردآلهوترجمانان دي اودجذباتوپه عالم کې سندرې وايي.که داسې نه وي،نوڅنګه امکان لري چې دډېروعادي خلکوله خولې دې دومره ښکلې سندرې واوريدل شي.(روهي،دپښتومعاصرادبيات،۱۱ــ ۱۳مخونه)
څنګه چې په پخوا زمانوکې هنردطبيعت تقليد ګڼل کيده،نوارسطودهمدې اصل پربنا دشعرپه باب وويل:
« دشعرهدف دخلکوداعمالونمايش دی.»(صورتګر،سخن سنجي،ص۵۹)
همدارنګه ارسطوپه خپل اثرپويټکس کې هم شعردطبيعت تقليد ګڼلای دی.ارسطوګټورهنرونه ــ چې دژوند دمادي اړتياوودپوره کولوله پاره خدمت کوي ــ له ښکلوهنرونوڅخه،چې دخوند اودروح دتصفيې له پاره په کارېږي،بېلوي.دده په نظرشعردبشري عواطفوله تهذيب سره مرسته کوي.که په شعرکې د تخيل اومبالغې برخې زياتې دي،علت يې دا دی چې شاعرايديال انځورونه اوحقيقي مفکوره په نظرکې نيسي.(روهي،دپښتومعاصرادبيات،۹ــ ۱۳)
دارسطو له نظره انساني ذوق دشعرخالق دی.دغه موضوع ارسطوپه خپل اثر« پويټکس » کې طرح کوي.دده دنظرياتوخاکه داسې ده:دانسان کوم ذوق چې دشعرخالق ګڼل کيږي،له دووسرچينوڅخه تِوومنه اخلي.لومړنۍ چينه يې دتفاخراولويۍ فکردی،چې دپلاراونيکه دلويۍ اوعظمت دتآثرنتيجه ده.دغه برخه دفخريه اورزميه اشعارومحرک ګڼل کيږي.دويمه چينه يې دنورودعيب لټولواونکته چينۍ ته دانسان هغه طبيعي علاقه ده،چې له دې برخې نه غندنه پيدا کيږي.
له لومړنۍ نه دخندا وړمنظوماتوڅخه(کميدي) رامنځ ته کيږي.ارسطوپه دې عقيده درلوده چې غم لړلي يا تراژيدي منظومات په فخريه يا هجويه اشعارولوړوالی لري؛نوله دې کبله لازمه ده چې دهغې په باب پوره تحقيق او اوږد بحث وشي.لکه چې ده هم خپل «پويټکس» کې همدا کار عملي کړی دی.(ارسطو،کتاب الشعر،پښتواکاديمي،۱۶ــ۱۷مخونه)
ځينوبيا دشعر پايه له تاريخ نه هم لوړه ګڼلې ده اودا هڅه يې کړې ده چې په تاريخ باندې دشعرفضيلت ثابت کړي.ددغوخلکوپه سرکې ارسطوولاړدی.ارسطوبه هرکله ټينګارکاوه چې:شعرله تاريخ نه بزرګوار(لوی) اوفيلسوفانه دی.(سخن سنجي،۷۳مخ)
سکولاستيکانوپه انتقادي دوره کې دشعرپه باب په ټول کې خپل نظرداسې څرګند کړی دی:«شعرانسانان بت پرستۍ اوغيراخلاقي پرهيزګارۍ ته رهنمايی کوي.»(سخن سنجي،۹۶مخ)
دشعر په هکله دسکولاستيکانودغه غيرعادلانه اوغيرعلمي نظردډېروپوهانوله خوا رد شوی دی اوپه مقابل کې دشعرښوونيز- روزنيزارزښت په نښه شوی دی.
د « نګه هنر » (هنردهنرله پاره ) بنسټ اېښودونکي،مشهورآلماني پوه امانويل کانت له بايکون نه يوه پېړۍ وروسته دهغه دنظرپه تآيد سره دشعرپه هکله داسې وويل:
« شعرله دې کبله چې دزړه له هيلوسره،دخيزونوله ښکاره بڼوسره منطبق دی،نودزړه دهوسايۍ اوذهن دسپيڅلتيا سبب کيږي.»(سخن سنجي،۱۱۷مخ)
دځينوپوهانوله نظره ښکلاپوهنه،له کانت نه وروسته وغوړېده اوټوله نړۍ يې ونيوله.دکانت دښکلا پوهنې دنظرېې لنډيزداسې دی:
« انسان له بهرني طبيعت( غر،ځنګل،سيند اونور) څخه خبردی اوپه خپل طبيعت (شعور) باندې هم پوهه لري،دی په بهرني طبيعت کې حقيقت لټوي اوپه خپل طبيعت کې ښيګڼه.لومړۍ مرتبه (دبهرني طبيعت څېړنه) دمجرد عقل کاردی،اودويمه مرتبه ( دځان په باره کې څېړنه ) عملي عقل ته راجع کيږي.دکانت په نظر،مجرد عقل اوعملي عقل دواړه دمعرفت اوپيژندنې وسيلې دي،ليکن دیادووسيلوترڅنګه دمعرفت له پاره يوه بله وسيله هم شته چې هغې ته دقضاوت استعداد ويل کيږي.دغه استعداد دښکلاپيژندنې داحساساتواسا س دی،ليکن ذهني ښکلا پرته له دې چې له کوم ضرورت سره اړه ولري،اوپرته له دې چې په کومه عملي ګټه باندې متکي وي،دانسان په شعور کې خوند اولذت پيدا کوي اوعيني ښکلا له يوه مقياس سره سم ديوه شي دشکل په تناسب پورې اړه لري.
که په ساده توګه ووايو،ښکلا په خپله يومستقل ارزښت دی،چې منشآ يې اخلاقي ښيګڼه يا عملي ګټه نه ده.دکانت اصلي موخه دا ده چې هنرپه خپله غايه ده،بايد دهيڅ ډول هدف له پاره دوسيلې په توګه استخدام نه شي.دکانت په عقيده شعردهنرترټولولوړ شکل دی،ځکه په هغه کې ايديا ل انځوريدای شي.(روهي،ادبي څېړنې،۱۳۶۰کال.۵۵ــ۵۶مخونه)
په شلمه پېړۍ کې داګزيستنسيا ليزم ستر نماينده،فرانسوي ليکوال ژان پل سارتر،دشعر په هکله داسې ويلي دي:
« دشعرحکم،دانځورګرۍ،مجسمه جوړونې اوآهنګ جوړولوحکم دی.په شعرکې کلمات دنښونښانومانا اووظيفه نه لري،بلکې د شي په توګه منل کيږي.»(اسماعيل نوري علآ،صورواسباب درشعرامروزايران،۴۵،۱۳۴۸مخ)
رضا براهني په «طلا درمس» کې شعرداسې راپيژني:
« شعر دانسان اوطبيعت ديوازيتوب په باغونوکې پاکه اوله انځورونوډکه ګډا ده.شعردکلماتوپه واسطه دشيانوپه منځ کې په ګډا سرکيدل دي.»(طلا درمس،۱۵،۱۳۴۷مخ)

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

**يادونه:** دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

« لوچي » يوچيني سرداردی،ده دشعرپه باب خپل نظر،په خپل يوه آزاد شعرکې داسې څرګند کړی دی:
موږشاعران له عدم سره جنګيږو،څوهغه په هستۍ بدل کړو،
موږدچوپتيا دروازې په سوک وهو،څويوه ځواب ورکونکې موسيقي واورو،
موږ لايتناهي فضا په يوه ټوټه کاغذ کې ځايوو،
اود دووګوتوزړه له سيمې څخه سيلاب را بهوو، ...
شاعرهغه څوک دی چې مځکه اوآسمان دقفس په قالب کې اچوي.»( طلادرمس،۱۶مخ)
دشعر په هکله دبيلابيلونظرياتوپه لړکې دانګلستان مشهورشاعر « وردزورت »دشعر په هکله داسې ويلي دي:
« شعردباقدرته اوپياوړواحساساتوطبيعي څرګنديدل دي.»(راعي،نظريات ادبي،۱۰۷،۱۳۵۸مخ)
فرانسوي شاعر« شارلربودلر» دشعردملتزم والي په اړوند دشعردهدف په هکله داسې ويلي دي:
«ځينې انګيري چې دشعرموخه زده کړه ده اوشعربايد دوجدان دبشپړولو له پاره وکارول شي.شعرله ځانه بل هدف نه لري اونه شی کيدای چې بل هدف ولري.هيڅ شعرترڅوچې دشعر ويلوله پاره نه وي ويل شوی،لوړاوعالي شعرنه کڼل کيږي اودشعرنوم وربانديې نه شواينبودلای.حتی که شعرپه نا بودۍ هم تهديد شي،له علم يا اخلاقوسره نه شي تشبيه کيدای.دشعر هدف حقيقت نه دی اوله خپل ځانه پرته بل هدف نه لري.»(روهي،ادبي څيړنې،۴۰- ۴۱مخونه)
دشارل بودلر دغه پورتنۍ خبرې د «هنردهنرله پاره»دشعاردترويجولوليکوال «ويکتورهوګو» دهغې خبرې ټينګ ملاتړدی چې ويلي يې و:« سل ځلې وايم چې هنردهنرله پاره»
امريکايي شاعر«ادګارآلن پو»دشعرپه هکله ويلي دي:
«شعريوازې ديوه واحد(يوازيني) مرموزاوتوصيف نه منونکي (توصيف نه کيدونکي) اصل مسؤل دی،اوهغه اصل ښکلا ده.»(شجاع الدين شفا،منتخبې ازبهترين اشعارامريکايي،۱۰،۱۳۳۵مخ)
اوپه همدې ډول دويکتورهوګوددغې خبرې نورملاتړي هم پيدا شول،چې دهمدې نظريې (هنردهنرله پاره) کاروکړي،خوددوی په مقابل کې دګټورهنر(هنردژوند له پاره) دنظريې رامنځ ته کوونکي اوپلويان ودريدل اودرياليستي افکاروپربنايې ددوی په مقابل کې سخته جګړه پيل کړه.دساري په ډول فرانسوي ليکوال« سن سيمون»(۱۷۶۰ـ ۱۸۲۵) اودده ملګروبه ټينګارکاوه چې دشعراونوروټولوهنري آثاروهدف بايد دا وي چې دټولنې دافرادوترمنځ دمرستې اوهمدردۍ حس پيدا کړي.
د « هنردهنرله پاره » دنظريې پلويانوټول ټينګاردا دی چې ديوه هنري اثرله پاره يوازې ښکلا کفايت کوي.دساري په توګه« تيوفيل ګوتيه » تل دا خبره کړيده:شعرچې ښکلی دی،آيا همدغه کفايت نه کوي.
دا يومنل شوی حقيقت دی چې ښکلادټولوهنري آثارواصلي برخه جوړوي،په تيره دشعر؛خوددې ترڅنګ د «هنر دهنرله پاره» دنظريې دپلويانوغوښتنه له شاعرنه دا هم ده چې شاعردې دټولنې دغوښتنوترجمان هم وي.ددغوخبروپه تاييدولوسره « اوګوست باربيه » د «هنردهنرله پاره» دنظريې دپلويانوپه ترويجولوسره دشعر هدف داسې ښوولای دی:
« دشعر هدف په ملت کې دروښنايي خپرونه ده.»(ادبي څيړنې،۵۸مخ)
په دې ډول ليدل کيږي چې دتاريخ په اړدوکې ځينې خلک دخپلوادبي مکتبونواوسياسي ايدیالوژيوپه پيروۍ اودطبقاتي رسالت پربنا دشعرله التزام څخه سترګې پټوي،خوځينې بيا شعررسا لتمند ګڼي خا صې ټولنيزې اوسياسي دندې د همدې رسا لت اوالتزام پربنا وربه غاړه کوي،چې ددواړوډلوله نظره دشعرمفهوم اومانا کاملاً فرق سره کوي،ان تردې چې يودبل پرضد هم دريږي.
د روم نامتوشاعرهوريس په خپل اثر« دشعرهنر» کې دشعرپه هکله داسې علمي نظروړاندې کړی وچې شعربايد هم ښکلی وي اوهم ګټور.دده دغه نظردشعرله اوسنې تعريف اورسالت سره اړخ لګوي.دهمدې نظريې په تا ييد سره بيا ځينوداسې ويلي دي چې په شعرکې اخلاقي تعليمات بايد داسې ونغښتل شي،لکه ماشومانوته چې ترخه درمل له خوږوشيانوسره ورکول کيږي.
ځينوپه دادبياتودپخواني ويش په اسا س ويلي چې ادبيات دوې برخې لري:
۱ـ منظومه برخه.
۲ـ منثوره برخه.
اوپه دې ډول به يې ټولومنظوموماتوته شعروايه.
ځينونوروبيا په عنعنوي ډول ويلي دي چې:شعردعربوپه لغت کې پوهې اوخبريدوته وايي،اوپه اصطلاح کې هغه موزون کلام چې غا لباً قافيه ولري،شعربلل کيږي. اوشاعردشعردښښتن ما نا لري.
ځينوبيا شعردنوي اوابتکارپه ما نا راوړی دی.
بلې ډلې بيا ويلي دي چې :شعرهغه خوندور کلام دی چې وزن اوقافيه ولري،فکرځان ته متوجه کړي اوروح په حرکت اوهيجان راولي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ځيني بيا شعردهغه کلام مجموعې ته وايي چې دواقعيت،احساس اوتخيل موزونه غوټه وي،چې ديوه ټولنيزمطلب درلودونکی وي.دغه رازبل نظربيا داسې دی چې:هغه داحساس اوتخيل درلودونکې وينا چې اغلبآ مقفی وي،شعردی.
په همدې لړکې يوبل پوه خپل نظرداسې څرګند کړی دی: ... شعردادبياتوشيره اوروح دی.(سخن سنجی،۲۹مخ)
مشهورانګليسي شاعرويليام شکسپيرشعرداسې تعريف کړی دی:
شعرداحساساتواوعواطفوکورنۍ بڼه ده.
ځينوبيا شعرته دډيراهميت دقايليدوپه لړکې شعرله ادبياتوڅخه جلاکړی اودهنر دبلې څانګې په ډول يې پيژندلی دی.دهمدې خلکودنظرخلاصه داسې ده:
شعر دادبياتودپراخې سيمې له ښارونوڅخه هغه ښاردی چې دپرله پسې بغاوتونوپه نتيجه کې اوس غواړي خپل استقلال ترلاسه کړي.(صور واسباب درشعرامروزايران،۴۵مخ)
دنړيوالوپوهانو،فيلسوفانو،مفکرينو،ليکوالانواوشاعرانوپه ليکه کې ،پښتنوپوها نو،فيلسوفانو،مفکرينو،ليکوالواوشاعرانو؛په خپل وارسره،دخپل وخت دعلوماواوتجربوپه رڼا کې اودوخت له غوښتنوسره سم دشعرپه هکله خپل نظريات څرګند کړي دي.په پښتوادبياتو کې دشعر په باب دپام وړنظريات له خوشا ل بابا نه راپيل کيږي.ده شعر«لګيدلی اور» بللی،« خان براندازسينه ګداز» يې کڼلی دی.خوشال په خپله دستارنامه کې ويلي دي:
« دشعرکارعظيم دی،ددې خانه براندازسينه ګدازڅوتعريف توصيف کوم،لګيدلی اوردی،چې هرڅه سره پرمخ وړي،ميلمه زوروردی چې واړه وينې دزړه خوري ... دهرچا کارنه دي ... دشعرطبيعت په مثال دتوند باد دی ... دشعر مستي ډيره ده ... » ( خوشال خان خټک،دستارنامه،پښتوټولنه،۴۵مخ)
له خوشال نه وروسته دشعرپه باب دده کورنۍ،پيروانولومعاصرينوهم دشعر په با ب ډول ډول نظريات څرګند کړي دي،چې دغه سلسله تر معاصرينوپورې رارسيدلې ده.استاد ګل پا چا الفت دشعرپه هکله داسې ويلي دي:
« شعر له زړه نه الهام اخلي اوله زړه سره کارلري ... عواطف اواحساسات چې دشاعرله زړه نه رانقل شي،شعرترې جوړشي اوپه زړونواثرکوي... شعرته دعواطفواواحساساتودظهوراودتجلياتوکوه طورويلی شو.» ( ګل پا چا الفت،غوره نثرونه،۱۳۳۶کال،۵۶مخ)
الفت په يوبل ځای کې دشعر په هکله داسې وايي:
« څوک وايي(شعر) هغه موزون کلام دی چې دانسان په احساساتواوعواطفوکې تحريک پيدا کوي.ځيني نوروايي هرکلام چې دغه کارکولای شي،وزن اوقافيه ولري ... هغه شعردی.څوک بيا وايي چې نه،هرڅه چې په زړه اثرکوي اوپه انسان کې تعجب يا جوش اوجذبه پيدا کوي،هغه شعردی.نوددوی په نظرکې جهان ټول شعردی،چې سړی يې دآسمان په ستورواوشفق کې،ددکواومستوسيندونوپه څپو،دګلونواوچمنوپه رنګ او،طراوت کې،دغروپه لوړوڅوکو،دآبشارونوپه مستۍ،دبلبلوپه شور،دښکلوپه ښايسته سترګواونازونوکې ګوري،نه يوازې دا نه! دمهجورواوآرزومندوپه اوسيليو،ددردمنوپه آه وفرياد،دمظلومانوپه ژړا کې هم شعري کيفيت موجود دی.» (ګل پا چا الفت،ادبي بحثونه،پښتوټولنه،۱۰ـ ۱۱مخونه)
که چيرې همدغسې دشعرپه تعبير،نومونې تعريف،رسالت اوهدف پسې نوره لټه هم وشي،دغسې نورډيرنظريات به وليدل شي چې دنظرخوندانودخپل وخت له غوښتنو،پوهې اوطرزتفکرله مخې شعرته يوډول نوم،تعبير،تعريف ،هدف اورسالت ټاکلی دی،خومهمه داده چې له پيل نه ترپايه دشعرداکثروتعريفونومشترک يا ګډ ټکی او ګډې ځانګړنې په شعرکې دتخيل،احساساتو،واقعيت،مفکورې،عواطفو،آهنګ،ابتکار،خوند اوښکلا شته والی دی.
دلته ددې خبرې يادول ضروري ګڼم چې تراوسه پورې دشعردپيژندنې په برخه کې داسې يوتعريف نه دی رامنځ ته شوی چې ټول شاعران،ادبپوهان اودنظر خاوندان دې هغه ومني.اوس هم دشعرپه باب نظريات لکه پخوا بيلابيل دي،خودشعردجوړونکوعناصروپه برخه کې ډيری ادبپوهان اوڅيړونکي سره په يوه نظر دي.دشعرڅيړونکوډيره سلنه دشعردجوړونکوبرخوپه باب په دې نظر دي چې،شعرکې بايد دغه څلوبرخې شته وي:۱
ـ مفکوره ۲ـ احساس ۳ـ تخيل ۴ـ آهنګ.
دشعرددغويادوشووضروري عناصروپربنا هم کيدای شي چې دشعريوڅه نوی اوبشپړتعريف وړاندې شي،اوځينوادبپوهانوپه نښه کړی هم دی.يوه څيړونکي دشعر دپورتنيوڅلوروضروري برخوته په پام سره،نوروماًخذونواوتجربوته په پام سره ،دشعرتعريف داسې وړاندې کړی دی:
« شعردآهنګ والوعبارتونوپه واسطه دواقعيت تخيلي اوبيا ځلي انځورولوته ويل کيږي.»(روهي،دپښتومعاصرادبيات،۱۳مخ)
څنګه چې دټولنيزو عيني،طبعي اووضعي قوانينوله مخې هره پديده دتحول اوودې پرلور روانه ده اوبدلون مومي،نوشعرهم که تريوه وخته دقافيې اورديف په چوکاټ کې بند و،نوبيا يې دهمدې غوښتنې پراساس ځان آزاد کړاوبې قافيې شعرونه باب شول چې په بيلابيلوملتونوکې ځانته جلا ،جلا تاريخ لري.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ددي بحث دښه پای له پاره به بې ځایه نه وي چې دیوه تکړه نقاد،لیکوال اوشاعرداخبرې را واخلو:
« ... نووینوچې او اوروچې نوی شعـردنوې زمانې،دنویوغوښتنودراسپړل شویوارمانونو،یوه اړتیا ده،هغه اړتیا چې هرومروباید پوره شي ... » (افغان یاد،دمقالومجموعه،۲۴۰مخ)

مآخذونه:


۱ـ ادب(مجله)،دکابل پوهنتون دابیاتوپوهنځي خپرونه،۱۳۵۶کال،لومړۍ ګڼه،۱۱۹مخ(پیدایش ومنشآ شعر،درحیم الهام مقاله)
۲ـ ارسطو،کتاب الشعر،دمولوي محمداسراییل ژباړه،دپیښوریونیورستي پښتواکادیمي،۱۳۵۸کال.
۳ـ الفت ګل پاچا،غوره نثرونه،پښتوټولنه،۱۳۳۶کال.
۴ـ الفت ګل پاچا،ادبي بحثونه،دپښتوټولنې چاپ.
۵ـ افغان یاد(دمقا لومجموعه)،کابل پوهنتون،۱۳۶۰کال.
۶ـ براهني رضا،طلادرمس،کتاب زمان،تهران،۲۳۴۷.
۷ـ خټک خوشال خان،دستارنامه،پښتوټولنه،۱۳۴۵کال.
۸ـ راعي،نظریات ادبي،دادبیاتوپوهنځي درسي کتاب،کابل پوهنتون،۱۳۵۸.
۹ـ روهي سرمحقق محمدصدیق،ادبي څیړنې،دننګرهارپوهنتون خپرونه،۱۳۶۰کال.
۱۰ـ روهي سرمحقق محمود صدیق،پښتومعاصرادبیات،دابیاتوپوهنځي درسي کتاب،کابل پوهنتون.۱۳۶۳کال.
۱۱ـ شفا شجاع الدین،منتخبې ازبهترین اشعارامریکایي،انتشارات کتابفروشي ابن سینا،۱۳۳۵.
۱۲ـ صورتګرلطفعلي،سخن سنجي، تهران،۱۳۴۱.
۱۳ـ عمید حسن،فرهنګ فارسي عمید،چاپ چهارم،۱۳۷۴.
۱۴ـ نوري علآ اسماعیل،صورواسباب درشعرامروزایران،۱۳۴۸.
۱۵ـ هاوزر ـ ی ـ ا ،ګستره ومحدوده جامعه شناسي وهنر(خاستګاه اجتمعي شعر)،مترجم فیروزشیروانلو،انتشارات توس.





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ